


فرید احمد « تسکین » ـ پکتیا

د نشر نیټه ۶ فبروری ۲۰۱۳م

# په پکتیا کې د ( بلنه) په نوم نوې چاپي خپرونه له چاپه راووته!


بلنه
پکتیا
په دې ګڼه کې:
۱- بېکاري؛ د ډېرو ستونځو سرچینه
۲- پوهنې وزارت اویا میلیونه درسي کتابونه چاپوي
۳- د ماشومانو اسلامي روزنه
پلار خپل ځانمرګی زوی پولیسو ته وسپاره
خوست - ګردیز سړک جوړېدل غواړي
دعوت خصوصي موسسې پوهنتون ته ارتقا وکړه

**په جنوب ختیځ زون کې د دعوت اسلامي ګوند مسوولین خبر ورکوي چې د(بلنه) په نوم نوې چاپي خپرونه یې له چاپه راباسلې ده.**

دوی وايي دغه خپرونه د اسلامي اوسياسي موضوعاتو سربېره ټولنيز موضوعات هم خپروي چې دخلکو د ستونزو په انعکاس کې به مهمه ونډه ولري.
په جنوب ختيځ زون کې د دغه ګوند مشر او په مشرانو جرګه کې د پکتيا د خلکو استازي عبدالحنان حق ويون رسنيوته وويل:(( دا مهالنۍ چاپي خپرونه به په جنوب ختيځ زون کې د دعوت اسلامي ګوند د دفتر د رسنيو دڅانګې مسوول استاد شربت خان راستيار تر نظر لاندې خپريږي.))
سناتور حق و ويل دا خپرونه د اسلامي،سياسي او ټولنيزو موضوعاتو ترڅنګ د خلکو د ستونزو د انعکاس په موخه به خپريږي.
نوموړي له ټولو افغان ليکوالو غوښتنه او هيله وکړه چې د دې خپرونې د مضامينو په ټولولو کې ورسره مرسته وکړي.
له بله پلوه د رسنيو فعالين د دې چاپي خپرونې چاپ کېدل د چاپي رسنيو په ځانګړي ډول د ژورنالېزم په ډګر کې يو نيک او پياوړی ګام ګڼي.
دوی وايي دا به د خلکو د ستونزو په انعکاس او دبيان د ازادۍ په پرمخ بيولو کې به مثبته اغېزه وکړي او زياتوي د ژورنالېزم دسپيڅلي مسلک فرهنګ به د دې سيمې په خلکو کې دود وموي.
که څه هم د طالبانو دحکومت له نسکوريدو را په ديخوا په افغانستان کې ژورنالېزم دبيان ازادۍپه پياوړتياکې اهمه ونډه اخيستې؛خو دبهرنيوځواکونو وتل له افغانستان څخه د نورو اقتصادي کارونو ترڅنګ پر رسنيو هم اغېز کړی چې ځينې رسنۍ د اقتصادي ستونزو له امله تړل شوي او ځينې يې لا د بهران په لور روانې دي.
داچې د افغانستان راتلونکی به د رسنيو له کومو ستونزو او ننګونو سره مخ وي داهغه پوښتنه ده چې راتلونکی وخت به يې ځوابوي.
د يادولو ده،چې په پکتيا کې دغريزو،بريښنايي او انځوريزو رسنيو ترڅنګ چاپي خپرونې هم فعاليتونه کوي چې د سيمې د پوهې او مالوماتو په زياتوالي کې يې مهم او ارزښتمند رول لوبولی دی.

راپور: فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا

بازګشت به صفحه اصلی ـ [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)